# د راحت زاخیلي
# "شلېدلې پنه" تکل که افسانه

**"The split shoe" a critical note or the first short Story of Pashto Literature**;

ډاکټر محمدزبیر حسرت

**Abstract**:

Rahat Zakhili is known as the first short story writer of modern Pashto literature. Two of his shorts stories, that is "The virgin widow" and the "Split shoe" are marked as the initial shorts stories being supported by various critique and researchers. Only Qalandar Momand (Sahibzada Habib Ulrehman) the reckoned critique, poet and short story an essay writer has challenged this notion. He marks an orientalists "J.G. Loraimar" also known amongst Pashtoons as "Laram Ferinfgai" as the first short story writer of the Pashto literature. This paper going to analyze that the first short story "The split shoe" could not be called a short story, because it deviates almost from all the pre-requisites of a short story. The paper also locate it as a piece of critique rather than short story, as it lacks the primary characteristics of story while having no story, plot, climax and conclusion.

د پښتو افسانوي دنیا په تاریخ کښې محترم صاحبزاده حبیب الرحمٰن قلندر مومند هغه یواځینے محقق او نقاد دے چې د سید راحت زاخیلي (مرحوم) په ځائ لرم پېرنګے د پښتو ژبې وړومبے افسانه نګار ګڼي. (1)

او د هغوئ دې رایې سره سم زۀ د ځان دپاره دا خبره هم د اعزاز نه کمه نۀ ګڼم چې د افسانې محققین او ناقدین چې د قلندر مومند (مرحوم و مغفور) یواځینے مرستیال یاد کړے.

د پښتو ژبې او ادب دوه لوئ شخصیتونه محترم اجمل خټک او ښاغلے ایوب صابر (مرحوم) په اول ځل سید راحت زاخیلي د پښتو ژبې وړومبے افسانه نګار منلے دے، ولې دیو دواړو محترمو د راحت صاحب وړومبۍ افسانه "کونډه جینۍ" نۀ

ده ګڼلې بلکې "شلېدلې پڼه" ته يې د هغوئ ورومبۍ افسانه ويلې ده. بله خبره دا ده چې دغو دواړو ښاغليو د "شلېدلې پڼه" د اشاعت کال کښې تېر وتلے دے.

"اجمل خټک صاحب خپله يوه مقاله کښې په دې حقله ليکلي دي چې:

"ليکن وه صنف جسے هم فنی لحاظ سے افسانه کهتے هين، آپ هی نے سب سے پهلے 1908ء کے قريب "شلېدلې پڼه" پهټا هوا جوتا" کے نام سے "افغان" او پهر "سرحد" مين شائع کيا". (2)

اجمل صاحب د "شلېدلې پڼه" د چاپ کال په "افغان" کښې د 1908ء خوا و شا ګڼي خو د "افغان" اجراء په 1909ء کښې شوې وه نه چې په 1908ء کښې ځکه د راحت زاخيلي صاحب د "شلېدلې پڼه" په "افغان" کښې په 1908ء کښې د چاپ کېدو خو هډو سوال نۀ پيدا کېږي. بيا د کمال خبره دا ده چې اجمل صاحب په خپله هم دغه مقاله کښې د خپلې خبرې نفي کوي، او د "افغان" د اجراء کال 1909ء ګڼي او په دې سلسله کښې ليکي:

"راحت الله راحت نے افسانه اور ناول جيسے مشهور اصناف کی ابتداء کی، اس دور کی سب سی بړی خصوصيت يه هے که پشتو زبان کا سب سے پهلا اخبار بهی شائع هوا، په "افغان" هفته وار افغان 1909ء مين جاري هوا ". (3)

اجمل خټک صاحب هم دغه مقاله کښې وړاندې د راحت صاحب د "شلېدلې پڼه" د اشاعت کال 1909ء بيانوي او وروسته هم دغه مقاله کښې 1925ء کال درج کوي، اقتباس دا دے:

"افسانه بهی پشتو مين جديد دور کی پيداوار هے، اور کافی تحقيق و تدقيق کے بعد مجهے سيد راحت زاخيلی کا "شلېدلې پڼه" يعني پهټا هوا جوتا، سب سے پرانا اور پهلا افسانه معلوم هوا، جو اانهون نے 1925ء مين لکها اور سرحد اور افغان مين شائع هوا". (4)

اجمل خټک صاحب خپله خبره کښې اول د خپل کافي تحقيق و تدقيق خبره کوي او د هغې په نتيجه کښې د راحت صاحب "شلېدلې پڼه" د پښتو د ټولو نه زړه او ورومبۍ افسانه ګڼي او کال يې 1925ء يادوي چې د ډېر حيرانتيا خبره ده، ځکه چې د کال 1909ء نه تر کال 1925ء نورې ډېرې افسانې په مختلفو اخبارونو او مجلو کښې چاپ شوې دي او د لرم پېرنګي نه پس د راحت زاخيلي (مرحوم) او ميان

ازادګـل کاکاخېـل (مرحـوم) نـامي د پښـتو افسـانې د اولينـو افسـانه نګـارانو پـه حېـث پېژندلې شوې دي.

محتـرم ايـوب (مرحـوم) خپـل کتـاب "جديـد پشـتو ادب" کښـې هـم پـه دغـه حقلـه ليکلي دي چې:

"پشـتو ادب مـين راحـت زاخيلـي کـا افسـانه "شـلېدلې پنـه" (پهټـا هـوا جوتـا) پهلا معلوم افسانه هے، يه افسانه 1925ء مين چهپا تها". (5)

شـايد چـې ايـوب صـابر صـاحب تـه هـم د اجمـل صـاحب د مقـالې نـه دغـه غلـط فهمـي شـوې وي چـې د راحـت صـاحب "شـلېدلې پنـه" پـه 1925ء کښـې چـاپ شـوې ده. ولـې دغـه دواړه ليکـونکي چـې کـوم کـال د دغـه افسـانې د اشـاعت کـال يـادوي. دا د "سرحد" د اجراء کال دے. (6)

د ښـاغلي عظمـت همـا د تحقيـق مطـابق د راحـت زاخيلـي (مرحـوم) "شـلېدلې پنـه" پـه "سـرحد" کښـې پـه کـال 1928ء کښـې د مـارچ پـه شـماره کښـې چـاپ شـوې ده. دې سلسله کښې ښاغلي عظمت ليکلي دي:

"سـرحد کـے مسـتقل قلمـی معـاون، راحـت زاخيلـي کـا زيـرِ بحـث افسـانه "شـلېدلې پنـه" ماهنامـه سـرحد بـرائے مـارچ 1928ء مـين پهلـي بـار اشـاعت پزيـر هـوا جسـکي فوټـو سـټيټ نقـل دسـتاويزي ثبـوت کـے طـور پـر ضـميمه جـات کـې حصـے مـين موجود هے".(7)

خـو متاسـفانه دغـه کتـاب کښـې د دغـه افسـانې فوټـو کـاپي د دسـتاوېز پـه طـور نـۀ دے چـاپ شـوے، ښـاغلي عظمـت همـا مـا تـه پـه خپـل کـور هسـکه مېنـه شـېخ ملتـون مـردان کښـې د پروفېسـر ډاکټـر محمـد همـايون همـا صـاحب پـه موجـودګۍ کښـې پـه يـو ملاقـات کښـې وويـل چـې د سـرحد دغـه فوټـو کـاپي مـا سـره موجـوده ده او زۀ يـې درتـه ښـودلے شـم. مـا چـې کومـو ماخـذونو تـه رسـائي وکـړه، هغـه ښـاغلي عظمـت هـم خپلـه مقالـه کښـې راوړې دي، او پـه دې خبـره کښـې ورسـره متفـق يـم چـې "شـلېدلې پنـه" د راحت صاحب (مرحوم) وړومبۍ افسانه نۀ ده.

محتـرم پروفېسـر ډاکټـر محمـد اعظـم اعظـم پـه خپـل کتـاب کښـې د راحـت زاخيلـي صـاحب وړومبـۍ افسـانه "کونـډه جينـۍ" د کـال 1917ء خـوا و شـا او "شلېدلې پنه" په کال 1919ء کښې ليکلې بيانوي". (8)

زلمے محقق ښاغلے اسیر منګل په خپل کتاب "پشتو افسانے کے سو سال" کښې چرته هم د "شلېدلې پڼه" تذکره د پښتو د وړومبۍ افسانې نه کوي. دا ښاغلے هم "کونډه جینۍ" د راحت صاحب وړومبۍ افسانه ګڼي او د اشاعت کال يې 1917ء بیانوي ". (9)

پورتنے بحث د "شلېدلې پڼه" نومې افسانې په حېث د پښتو ژبې وړومبۍ افسانې او د راحت صاحب (مرحوم) په حېث د پښتو د وړومبي افسانه نګار په تاریخي تناظر کښې وشو، چې ټول محققین د "شلېدلې پڼه" په افسانه ګڼلو کښې اختلاف نۀ لري. خو د اشاعت کال کښې یو بل سره متفق نۀ دي.

ولې دې پله چا هم توجه نۀ ده کړې چې "شلېدلې پڼه "افسانه هم ده او که نه؟ او زما د دې مقالې اصل مدعا او غرض و غایت هم دا دے چې د "شلېدلې پڼه "د مطالعې په رڼا کښې دا خبرې بې ویرې او ترهې وکړم چې دا افسانه نۀ ده او د تکل تعریف پرې صادق راځي. ځکه چې په افسانه کښې قصه لازمي جز دے او په قصه کښې واقعه ضروري امر دے، بیا د هغې قصې او واقعې دپاره ماحول هم په کار دے، د واقعاتو ترتیب یعنې پلاټ پکښې اهم دے، ابتدا، منځومانه او انجام هم د افسانې لازمي توکي دي، دغه رنګه منظرکشي، تجسس، ژبه، کردارونه او ځینې وخت مکالمې هم ضروري دي.

بل خوا د تکل صنف دے چې غېر افسانوي تخلیقي نثر وي، قصه او واقعه پکښې نۀ وي، لطافت او خوشګواري لري، ګرېزونه پکښې په غېر محسوسه طریقه کیږي، او چې کوم استدلال پکښې وي، لیکونکے به دا ګڼي چې زما لوستونکي دې سره متفق دي. زما په خیال په دې افسانوي تحریر د تکل سرۀ غالب دي اګر چې په صنفي لحاظ د اولسي ادبي جرګې پیداوار دے، خو پښتو ادب کښې د تکل ابتدا د شلمې صدۍ په سر کښې شوې ده، او "شلېدلې پڼه" یوه غوره نمونه ده.

زما په خیال چې د نن نه اتیا کاله وړاندې او تر اوسه پورې دغه تحریر د محققینو له نظره نۀ وي تېر شوے او هر محقق د بل په تقلید کښې هم دا خبره کړې ده چې "شلېدلې پڼه" د راحت صاحب وړومبۍ افسانه ده. "شلېدلې پڼه" اوس د پښتو د یولسم جماعت د نصاب په کتاب کښې هم د افسانې په حېث چاپ شوې ده. خو د کتاب ښاغلیو مؤلفینو یې د "مشق" په مرحله کښې احتیاطاً دا خبره هم درج کړې ده چې:

ګرانو طالب علمانو! لکه څنګه چې تاسو ته معلومه ده چې په پښتو کښې وړومبۍ افسانه ښاغلي سید راحت زاخیلي په کال **1917**ء کښې لیکلې وه چې نوم یې "کونډه جینۍ" ده، "شلېدلې پړه" د هغه دویمه افسانه ده چې په کال **1919**ء کښې یې لیکلې وه. په دغه افسانې د انشائیې (تکل) او ادب لطیف دواړو مینه هم ماتیږي " (**10**)

دغه پېراګراف کښې هم متضاد خبرې شوې دي، چې دا افسانه یې په **1919**ء کښې لیکلې وه. افسانه ورته هم وايي او انشائیه (تکل) هم او ادب لطیف هم. ولې د ښاغلیو مؤلفینو د وروستۍ جملې نه دا اندازه ضرور لګي چې اوس زموږ عالمانو هم د افسانې او تکل یا د نورو صنفونو تر مېنځه د امتیاز کرښه راکښلې ده او دا احساس یې ډېر شدید شوے هم دے. ګنې دغه جمله به یې نۀ لیکله.

ما چې پورته د افسانې دپاره د کومو ضروري فني محاسنو او لوازماتو ذکر وکړو په هغې کښې سیوا د دوو کردارونو او د هغوئ خپلو کښې د اوږدو مکالمو او مناظرې نه سېوا هیڅ افسانوي لوازمات نشته او ځکه پکښې افسانویت هم نۀ دے پیدا کړے شوے او دغه دوه کردارونه چې یو د پړې مالک دے او بل کردار یې د خپلې "شلېدلې پړې" نه جوړ کړے دے. هغه یې ځان سره ګویانه کړې ده. د هغې په بې ځانه وجود کښې یې ځان پیدا کړے دے. هغې له یې ژبه ورکړې ده. او په دغه ژبه کښې یې د دومره اسدلالي قوت او شدت مظاهره کړې ده. چې پخپله یې پرې ځان پړ کړے دے. او "شلېدلې پړه" یې وړ ګرځولې ده. کېدائ شي ځینې ملګري ورته د پښتو افسانې د ابتدائي دور افسانه یا علامتي افسانه ووايي چې د لیکونکیو په ذهن کښې فقط د اصنافو داسې تتې شان هیولاوې او وروستو ورله فني لوازمات ضروري ګرځولي شوي دي. دلته ضروري ګڼم چې د افسانې په نوم کوم تحریر چاپ شوے دے د هغې د "تکل" د اسلوب نه خپل لوستونکي هم خپله مطالعه کښې شامل کړم چې زما دې خبرې ته تقویت رسوي چې دغه تحریر افسانه نه بلکې تکل دے.

ما خپله "شلېدلې پړه" له پښې نه ایسته چې هغې راته نورې هم داړې چینګې کړې ما ته غصه راغله او په زور مې وویسته، وه مې غورزوله. په هغې باندې زما دا لوئ نظرې بده ولګېده او راته ګویانه شوه چې زما څۀ ګناه خطا؟ ما ډېر په بې پرواهۍ سره ووې چې چرته د غورزولو څیز دے. هغې ووې چې خیر دے که اوس

دي په کار نهٔ يم نو وه مې غوررزوه. ولې داسې سپکوه خو مې مه. د دې په خبره ما ته خندا راغله او ورته و مې وې چې په دنيا کښې تا نه زيات بل سپك شے چرته شته؟. ته د بني ادم يو لاندې اندام سره نښتې يې. پښو سره راښکې شې او تل د لارو ختهو موټهو باندې ګنده يې. د سرپټوب ځاۍ کښې تا څوك نهٔ پرېږدي. صفا ځاۍ کښې دې نهٔ را ننه باسي. مجلس نه دې خلق بهر وباسي. مونږ چې چاته سپك نظر كوو نو وايو چې دا زمونږ د پښې مسائي دے، او زما نيازبينه معشوقه چې پرون په غصه شوه نو ويې وې چې زهٔ دې په چيتره هم نهٔ اړوم يا کله کله وايي چې زما له چيترې نه لوګے شې. دې نه دا معلوميږي چې تا نه سپك شے بل په دنيا کښې نشته. دې ته نهٔ ګورې چې مونږ د چا عزت اخلو نو په پښه يې وهو. سره د دې چې ستا د ګوزار نتيجه څهٔ له توري، ټوپك نه زياته نه ده خو سپکاوے يې دومره دے چې خلق يې له ګولۍ نه هم زيات بد ګڼي دا ولې؟ دا ځکه چې ته سپك شے يې او بې اندازې سپك، بيا سره د دې خبرو حيا دې نشته، ځان ته ګوته نيسې "(11)

له دې نه علاوه دې تحرير کښې چې زهٔ ورته د تکل د اوسني مروجه تعريف له رويه تکل وايم کښې داسې خندنۍ جملې او متلونه وغېره هم راغلي دي چې هغه يې د افسانې نهٔ لرې کوي او تکل ته يې نزدې کوي. د مثال په طور دا څو جملې يې هم ولولئ:

"که چرې زهٔ ستا د بادشاه يا د خان، ملك يا د يو معمولي حاکم پښه وې نو تا به زما ښکلولو ته سر ټيټولو، که چرې زهٔ ستا د پير بابا يا د چا ولي پښه وې نو که زر ځله شلېدلې وې بيا به هم تا په سترګو پورې موښلم. که زهٔ ستا د استاذ يا د چا ميا، ملا پښه وې نو زر زر به دې په ځان پورې سولولم او دا به ستا يو ډېر نېك کار ؤ او لا فرض کړه که زهٔ ستا د هغې نيازبينې معشوقې پښه وې نو بيا خو به دې ګوزارونه ډېر په مينه خوړل. او ډېر خوند به يې درکولو. اوس ته ووايه چې که زهٔ پښه شوم نو زما کوم عزت کم شهٔ؟. او دا منم چې ستا پښه شوم نو زما عزت لاړ او که څهٔ سپکاوے را کښې دے نو هغه ستا د مجلس تاثير دے يعنې ګيتهکے سپك نهٔ دے خو چې څپياکه کښې واخښلے شي نو د اوبو په سر ځي ".(12)

غرض دا چې په دې تحرير کښې يو داسې استدلالي طرز خپل کړے شوے دے چې د پښې مالك انسان خپله دفاع کوي او دلائل پېش کوي او "شلېدلې پښه" خپله دفاع کښې دليلونه راوړي او په اخير کښې ورته مالك ووايي چې:

"زهٔ پراو تهٔ ور، مابايللې او تا ګټلې، ما چې لاتا ته سپك کتلي دي دا ګناه مې وبخښه".(13)

او داسې دا مناظره "شلېدلې پڼه" وګټي او هم دغه اخيرنۍ جملې د دې تحرير اختتام هم دے نو داسې څهٔ افسانويت پکښې ما ته نهٔ ښکاري او نهٔ د افسانې څهٔ فني لوازمات لري چې د هغې تر مخه ورته په افسانه او تکل کښې تميز کوونکے يو پوهه محقق او نقاد افسانه وويلے شي. البته تکل به ورته ضرور وايي خو که د افسانې په ځائ ورته څوك تکل هم ووايي نو د سېد راحت زاخيلي (مرحوم) په شخصيت او فن کښې به څهٔ کمے را نهٔ شي. البته راحت صاحب به د پښتو تکل په سرخېلانو کښې هم شامل شي.

د تحقيق او تنقيد د يوې نوې دريچې پرانستو په هيله:

❁❁❁

# حوالې


(1) مومند ، قلندر ، روزنامه انقلاب پېښور ، (میاشتنۍ پښتو ایډیشن) مارچ 1978ء.

(2) ختک، اجمل، "پښتو ادب" مقاله مشموله، سنګ میل پېښور ، (سرحد نمبر) فارغ بخاری/ رضا همدانی، نیا مکتبه پشاور ، 1950ء مخ 177، 178.

(3) هم دغه ماخذ ، هم دغه مخونه.

(4) هم دغه ماخذ ، مخ 182.

(5) صابر ، ایوب، جدید پشتو ادب، مکتبه شاهین پشاور ، جون 1974ء مخ 181.

(6) د "سرحد" مدیر محتم الله بخش یوسفی، د "سرحد" د فروري 1928ء په اداریه کښې دا خبره لیکلې ده (عرض حال) مخ 2.

(7) هما ، عظمت، اردو اور پشتو کې نمائندې افسانې، (تقابلی جائزه) پشتو اکیډیمي پشاور یونیورستی ، ستمبر 2005ء، مخ 32، 34.

(8) اعظم، محمد اعظم، ډاکټر ، پښتو افسانه، تحقیق او تنقید ، عظیم پبلشنګ هاؤس خیبر بازار پېښور ، جولائي 1976ء مخ 99.

(9) منګل، اسیر ، پشتو افسانې کې سو سال، دانش کتب خانه، قصه خواني پېښور ، 2000ء.

(10) پښتو ، د دولسم جماعت، این ډبلیو ایف پي ټیکسټ بک بورډ پېښور ، د چاپ کال نۀ لري. مخ 96.

(11) هم دغه کتاب، مخ 92.

(12) هم دغه کتاب، مخ 93، 94.

(13) ایضاً، مخ 102.